مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

ډاکټر لودویگ آدمک
ترجمه: رحمت آریا

۲۰۲۶/۰۴/۰۶

# د افغانستان بایوګرافیکي قاموس
## دوهم ټوک
### (نهه ویشتمه برخه)

## عبدالشکور فرهادي

د عبدالباقي زوی او د روان فرهادي ورور په ۱۹۴۰ز کال کې په کابل کې زېږېدلی دی. په ۱۹۷۰ز کال کې په مصر کې د ودانیو جوړولو له رشتې فارغ سوی او په ۱۹۷۴ز کال کې ئې د شمالي کارولاینا د «ریلیګ» [1] له پوهنتون څخه ئې ماستري تر لاسه کړي ده. د کابل پوهنتون د انجنیری د پوهنځي د ودانیو د جوړولو د څانګې استاد. په ۱۹۸۱ز کال کې پاکستان ته لاړ او همدلته ئې د پوهاند رباني ملاتړ وکړ. له ۱۹۸۲ز کال راهیسي په شمالي کارولاینا کې د معمار په توګه کار کوي. د پخواني یاور محمد میرزا له لور مېرمن ملیحې سره ئې وادهٔ کړی دی.

## ډاکټر نعیم فرهان

په کابل کې زېږېدلی دی. خپله دکتورا ئې له چکوسلواکیا څخه تر لاسه کړې ده. د کابل ننداري غړی. د کابل پوهنتون د ښکلیو هنرونو د پوهنځي رئیس. د غوایي له پاځون وروسته د هنرمندانو د اتحادیې د تیاتر د څانګې غړی. مورنی ژبه ئې دري ده.

## ډاکټر میر محمد امین فرهنګ

د میر محمد صدیق فرهنګ زوی په ۱۹۳۸ز کال کې په کابل کې زېږېدلی دی. له ۱۹۴۵ تر ۱۹۵۷ز کال پوري د استقلال لیسې ته تللی او له ۱۹۵۸ تر ۱۹۶۲ز کال پورې ئې د کابل په پوهنتون کې اقتصاد لوستی دی. له ۱۹۶۴ تر ۱۹۷۴ز کال پورې ئې د «کولن» [2] په پوهنتون کې اقتصاد لوستی او دکتورا ئې تر لاسه کړه. له ۱۹۷۴ تر ۱۹۷۸ز کال پوري د کابل پوهنتون استاد. په کابل کې د «وحدت ملي» یو له بنسټ ایښودونکو څخه. د ۱۹۷۸ز کال د آګست له میاشتې، د ۱۹۸۰ز کال د جنوری تر میاشتې پوري زنداني سوی دی. په ۱۹۸۱ز کال کې د جرمني «بوکم» [3] ته تللی دی. د افغانستان د آزادۍ لپاره د مبارزې په لاري کې د اتحاد د پیاوړتیا د سازمان [4] OSULA د اجرائیوي شورى غړی.

---

[1] -Raleigh, North Carolina
[2] - Cologne
[3] -Bochum
[4] -OSULA (Organization for strengthening of the Unity in the Struggle for the Libration of Afghanistan)


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزي بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ

د جرمني په بوکم کي د ‹‹روړ›› پوهنتون [5] همکار. په فرانسوي، جرمني او انګليسي خبرې کوي. د ملکي حميرا له ناسکه خور زهرې سره ئې واده کړی دئ او د بلقيس او ليلا په نومونو دوه لوڼې لري.

## مير محمد صديق فرهنګ

د سيد قاسم رشتيا د ناسکه ورور سيد حبيب زوی په ۱۹۱۵ز کال کي په کابل کي زېږېدلی دئ. د استقلال په ليسي کي ئې زده کړې کړې دي. د ملي بانک کارمند. په ۱۹۴۹ز کال کي د ښاري شوری غړی او د کابل ښاروالي مرستيال. له ۱۹۵۱ تر ۱۹۵۲ز کال پورې د «وطن» د خپروني محرر. په ۱۹۳۳ز کال کي محمدهاشم او له ۱۹۵۲ تر ۱۹۵۶ز کال پورې شاه محمود غازي، زنداني کړی. په ۱۹۵۶ز کال کي د کانونو او صنايعو د وزارت سلاکار. په ۱۹۶۳ز کال کي د کانونو د څانګي رئيس. له ۱۹۶۴ تر ۱۹۶۵ز کال پورې د پلان د وزارت مرستيال وزير. د اساسي قانون د تسويد د کميټي غړی. په ۱۹۶۴ز کال کي د لويې جرګي غړی. د کابل له څلورمي ناحيي څخه د ولسي جرګي غړی، او په ۱۹۶۵ز کال کي د قانون جوړولو د کميټي رئيس. له ۱۹۷۲ تر ۱۹۷۳ز کال پورې د بلګراد سفير. د ۱۹۸۰ز کال د فبرورۍ د مياشتي له ۳ نېټي وروسته د صدراعظم سلاکار. د ۱۹۸۱ز کال د جنورۍ په مياشت کي له افغانستانه ووت. د تأريخ او سياست په هکله ئې خپل آثار وليکل او د برتانيکا په انسايکلوپيديا او پوهنتونونو کي ئې د خپلو مقالاتو له لارې ونډه واخيسته. مورنۍ ژبه ئې دري ده او په پښتو، انګليسي او فرانسوي هم خبرې کوي. واده ئې کړی دئ او دري زامن او يوه لور لري. د امريکا په متحده اياﻻتو کي ژوند کوي.

## ګل احمد فريد

د خداداد زوی په ۱۹۲۹ز کال کي په کابل کي زېږېدلی دئ. په ۱۹۵۵ز کال کي د ادبياتو له پوهنځي څخه فارغ سوی دئ. ماستري ئې د کتابدارۍ په علم کي له برتانيې څخه اخيستي او بله ماستري ئې په ۱۹۶۵ز کال کي د کولمبيا له پوهنتون څخه اخيستي ده. د پوهني د انستيتيوت د مطبوعاتو مدير. د کابل د عامه کتابتون عمومي مدير. د معارف د وزارت د اخبارِ عرفاني مدير. د کابل د دارالمعلمين استاد. د دارالعلمينو د خبرونو مدير. د معارف د اخبار مدير او محرر. د ‹‹کمکيانو د ږغ›› د مجلې بنسټ اېښودونکی او مسؤول مدير. د عامه کتابتونونو سرپرست رئيس او وروسته د اطلاعاتو او کلتور په وزارت کي د نشراتو رئيس. د کلتور د رياست رئيس او د کلتور د مجلې بنسټ اېښودونکی. د ګڼ شمېر آثارو مؤلف. د خلقيانو د واکمنۍ پر مهال د کابل ټايمز محرر. د قومونو او د قبائيلو د چارو د وزارت سلاکار. د حيدر زابلي له لور سره ئې واده کړی دی.

## احسان الله فرزاد

په ۱۹۳۲ز کال کي زېږېدلی دئ د مور له خوا يو پرونتا [6] دئ. د کاليفورنيا د ودانيو جوړولو [7] په پوهنتون کي ئې زده کړې کړې دي. د ساختماني دستګاه عمومي مدير. د ټولګټو په وزارت کي د ساختماني چارو مشر. په ۱۹۷۱ز کال کي د نړۍ وال بانک سلاکار. په واشنګټن ډي. سي. کي ژوند کوي. مورنۍ ژبه ئې دري ده.

---

[5] - Ruhr- University Bochum, Germany
[6] - Parwanta
[7] - University of California Architect

## مـحمد انور فرزام

په شوروي اتحاد کې ئـې تحصیلات کړي دي. د انقلابي شورى د رئـیسه هیـئـت د مجلس منشي. د مرکزي کمیټې علی البدل غړی چې وروسته ددې کمیټې دائـمي غړی سو. د ولسمشرۍ د دفتر د پروتوکول د برخې کفیل. په ۱۹۸۵ز کال د دسمبر په میاشت کې د انقلابي شورى سکرتر. مورنۍ ژبه ئـې پښـتو ده.

## عبدالکریم فرزان

د هرات له زنده جان څخه د ولسي جرګې غړی. په کابل او ترکیې کې ئـې تحصیلات کړي دي. مورنۍ ژبه ئـې دري ده. د ۱۹۶۸ز کال د مارچ تر جون پورې د «صدای عوام» ناشر. د معصومي عصمتي له خور سره ئـې وادهٔ کړی دئ. په ۱۹۸۳ز کال کې پاکستان ته لاړ او په ۱۹۸۵ز کال کې فرانسې ته لاړ.

## جنرال فتح مـحمد

یو هزاره دئ. په ۱۹۵۲ز کال کې له وسله وال ځواک څخه متقاعد او بیا زنداني سو. د جبهـهٔ ملي پدروطن یا NFF د ملي کمیټې د اجرائـیوي بورډ غړی. د ۱۹۸۱ز کال د جولای په ۱۲ نـېـټې په کابل کې د مجاهدینو له خوا ووژل سو.

## غوث الدین فائــق

په ۱۹۲۸ز کال کې په ګلبهار کې زېږېدلی دئ. له پوځي اکاډیمۍ یا حربي پوهنتون څخه فارغ سوی دئ. د ملي دفاع په وزارت کې په ساختماني چارو کې د تخنیکي وسایلو مدیر. د داؤود ملاتړی؛ نوموړي د ۱۹۷۳ز کال د جولای د میاشتې په کودتا کې ګډون وکړ. په ۱۹۷۳ز کال کې د ټولګټو/ فواید عامې وزیر. د ۱۹۷۸ز کال د اپریل له میاشتې، د ۱۹۸۰ز کال د جنورۍ تر میاشت پورې په پلچرخي کې زنداني. مورنۍ ژبه ئـې دري ده.

## ډاکټر غلام مـحمد فائــز

د غلام نبي زوی په ۱۹۴۸ز کال کې په هرات کې زېږېدلی دئ. په ۱۹۶۳ز کال کې د کابل له دارالمعلمینو څخه او ورپسې د کابل له پوهنتون څخه فارغ سوی دئ. له ۱۹۶۹ تر ۱۹۷۱ز کال پورې ئـې د شمالي کولاردو په پوهنتون کې انګلیسي ادبیات ولوستل او ماستري ئـې تر لاسه کړه. د اریزونا په پوهنتون کې ئـې امریکایي ادبیات ولوستل او په ۱۹۷۸ز کال کې ئـې دکتورا تر لاسه کړه. له ۱۹۷۹ تر ۱۹۸۲ز کال پورې د مشهد د پوهنتون پوهنیار. په ۱۹۸۳ز کال وفات سو.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

**فضل احمد**

په ۱۹۸۳ز کال کې د کابل والي

**میرزا فضل احمد**

د «شیخ الاسلام زنده پیل احمد جام»[8] له اولادو د سعید احمد د زوی د میرزا محمد جان زوی، په ۱۸۷۴ز کال کې په کابل کې زېږېدلی دئ. لومړنۍ زده کړې ئـې په کور کې کړې دي او بیا ئـې د کابل له علماوو څخه زده کړې تر لاسه کړي دي. ګن شمېر حکومتي مقامونو کې ئـې کار کړی دئ. خطاط او شاعر. د ۱۹۳۰ز لسیزې په اوږدو کې وفات سوی دئ.

## نور بیا

**دوست محمد فضل**

په ۱۹۲۳ز کال کې په کابل کې زېږېدلی دئ. د...

قدرمنو لوستونکو! د بناعلي رحمت آریا د آرشیف: لینک

[8] -Shaikh al-Islam Zinda-pil Ahmad Jam